په تاسو کې هيڅوک مومن کيدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "په تاسو کې هيڅوک مومن کيدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي".
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هيڅ مسلمان تر هغه پورې د بشپړ ايمان خاوند کېدلی نه شي تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي هغه که: طاعتونه او يا هر ډول ديني او دنيوي ښېګڼې وي او دا چې څه د ځان لپاره بد ګڼي د هغه لپاره يې هم بد وګڼي، نو که چېرته يې په خپل ورور کې ديني نېمګړتيا وليده، په اصلاح کې يې زيار باسي او که کومه ښېګڼه يې پکې وليده نو ملاتړ يې کوي او د دين او دنيا په اړه يې ورته نصيحت کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4717

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee